مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۰/۰۶

سیلونه جنجالونه

دپرش څلوېښت کاله پخوا به د کابل خلک د ودونو سیل ته تر دېرو لرېو ځایونو پورې پلي تلل. واده به په چاراسیا کې و خلک به له چاردهي ورتلل. ځوانان به له خپلو ملګرو سره یو ځای شول، ماښام به روان شول، سهار ملابانګ به ښرته راغلل. په دوی کې ځینو داسې تجربه پیدا کړې وه چې له دېر لرې څخه به یې د واده ځای معلومولی شو. چاړه به یې په ځمکه کې ومنډه، غوږ به یې پرې کېښود او دا به یې معلومه کړه چې د ساز غږ له کوم لورې راځي. بیا به ټول په هماغه خوا خوځېدل. لکه قطب ښود چې سړي ته شمال او جنوب ښیي، د دوی د چرې ستن به د واده په لورې ودرېده.

دا چې ولې پخواني خلک د واده د سیل دېر شوقیان وو، ګڼ لاملونه لرلی شي. هاغه مهال تلویزیون نه و، سینما ته هر څوک نه شو ورتلی، د تفریح نور امکانات نه وو نو ځوانانو او ان د پاخه عمر نارینه وو به همدا غنیمت ګڼل چې د نورو ودونه ته ورشي او د ساز وړیا نندارە وکړي.

هاغه مهال په ودونو کې به یوازې ساز و، سندرغاړو به کلیوالي سندري بللي، ځینو خراباتي سندرغاړو بیا غزلونه ویل. وروسته بیا په ودونو کې د ښځو او هلکانو ګډول دود شول. په اکثرو محفلونو کې د قمار میدانونه به تود وو. دې شیانو د سړي شیطان نور هم راپاراوه، نېشو ته به یې هم زړه تخنېده نو کرار کرار چرس څکول هم د سیلونو عادي برخه وګرځېده. که پخوا به چرسیان د نېشې لپاره لرې ګوښه ځای ته تلل چې څوک یې ونه ویني نو په دې وخت کې یې په عام محضر کې بې له ډاره سګرټي لګوله. بیا یو وخت داسې راغی چې شراب پرېمانه او ارزانه شول، بیا نو د ځینو خمار په سګرټیو نه ماتېده، شراب به یې هم څښل. که یو وخت شراب د نسبتاً متمدنو خلکو په محفلونو کې پیدا کېدل، په دې وخت کې عوامو ته هم رسېدل. هر شی که ښه وي که بد، خپل ځینې نزاکتونه لري خو کله چې عام شي بیا هغه نزاکتونه یې هم له منځه ځي.

نور نو دغه سیلونه له جنجالونو نه وو پاک. دېر ځله به د نڅاګرې په سر یا په قمار باندې جنګونه کېدل، چرې او بوکس بنجي به راایستل کېدلي، سرونه او نسونه به یې ځیرل او وینې به یې بهولې. بیا به پولیس ورسېدل، د واده ځښتن به هم حوزې ته بیول کېده او تورن کسان هم.

وروسته د انقلاب په کلونو کې چې وسله عامه شوه، قومي کندکونه او ملېشه ځواکونه جوړ شول نو په ځینو ودونو کې به وسله والي نښتي هم وشوې. سلیم صحاب سندرغاړی په یوه واده کې ووژل شو.

اوس چې تقریباً په هر کور کې تلویزیون شته، تر دېرشو زیات تلویزیوني چینلونه لرو، له سندرو رانېولي تر ډرامو او فلمونو پورې هر څه په وړیا توګه کتلی شو نو سړی حیرانېږي چې ولې بیا هم ځینې ځوانان د پردو ودونو ته د سیل لپاره ورځي.

موږ چې په اتم نهم صنفونو کې وو، په کابل کې د هوټل ودونه لږ وو. که د چا د لرې خپلوانو واده به هم وو، هغه به خپل ملګري نا بللي ورسره بیول. زموږ یوه استاد یوه ورځ راته وویل: تاسې د ځان په قدر پوه شئ، هېڅکله د چا واده ته نابللي مه ورځئ. تاسې خو عادي خلک نه یئ، مکتبي ځوانان یئ.

د استاد خبرو په موږ باندې اثر وکړ. که سړی ځان ته په درنه سترګه وګوري نو سپک کارونه نه کوي. اوسني ځوانانو ته زموږ د پخواني استاد خبرې مناسبې دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ